# د انسانیت چور

خزان تالان ګډ کړی په بهارد انسانیت
انسان پخپله چورکړونن ګلزارد انسانیت

بل څوک ندی،انسان دی لاتراوسه پری لګیادی
په سرولمبوکی سوځي اوس سینګارد انسانیت

جنګونه دي،وژنی دي،غمونه دي، ماتم دی
وتلی یی هرکاردی له مدارد انسانیت

انسان چی پخپل لاس نوربیګناه انسانان وژني
په کوم ځای کی یی پروت دی افتخارد انسانیت؟

له مینی خدای اشرف المخلوقات انسان پیدادی
خوکړی یی پخپله اوس انکارد انسانیت

**که داظالم انسان وي ، داد ظلم تداوُم وي**

**ورکیږي له نړۍ نه ټول آثارد انسانیت**

**هرکاریی د وحشي دی،انسانیت خوداسی نه وي**

**اوس تللي له انسانه ټول افکارد انسانیت**

**حیران یم ورته خدایه،دایی څه نخری شروع دي؟**

**انسان به کله سم شي بیا په لارد انسانیت؟**

**وحشیان ورته هروخت په توپک ګواښ کوي ملګرو**

**قیام چی کله پورته کړي شعارد انسانیت**

**الهام الدین قیام**

20/05/2015